مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پرهیز شګیوال ۲۰۲۶/۰۹/۲۸

# غزل

چې ولې اوس هم له اسمان نه راځي؟
پرمونږ د ګانو چې باران نه راځي

ګونډې يې ايښي د مسکين په مرۍ
سره يې رحم په انسان نه راځي

غم او خوښی کې یې غریب خدمت کړي
ددوی ښادی،غم ته بیا خان نه راځي

د یو مومن به څه سکون وي هلته
چې یې ترغوږ غږ د اذان نه راځي

داستا دلیل ماته ارزښت نه لري
چیرته چې ګند نه وي مچان نه راځي

یوازې ښځو باندې هر وخت راځي
چې په سرې ولې پیریان نه راځي؟

کاش چې مورجانه مې ژوندۍ وه راته
پرته له دې بل غټ ارمان نه راځي

دا چې رڼا نه کوې بله نه ده
دې مرې ډیوې ته پتنګان نه راځي

له شګیوال پرهیز مطلب چې واخلي
څنګ ته یې بیا ځیني یاران نه راځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ